# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اتمه | دویم کال| ۳۱۵مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### د افغانستان د وسله وال پوځ تاریخ




په ټوله کې دا کتاب د پوځ پېژندنې او بیا په ځانګړې توګه د افغان پوځ پېژندنې په اړه پوره او تفصیلي معلومات وړاندې کوي.

# په قطر کې طالب او امریکایي استازي د کېډونکو خبرو پر اجنډا اختلاف لري



۳

AFP

### د امریکایي او طالب استازو اصلي اختلاف په څه کې دی؟

۲ مخ

### د شوروي تر یرغل مخکې له افغان مجاهدینو سره د (CIA) مرسته

۲ مخ

### ښه حکومتولي

۳ مخ

## په زابل کې پر وچکالۍ ځپلو کورنیو کابو زر ټنه غنم وېشل کېږي



د زابل ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، د دغه ولایت پر وچکالۍ ځپلو او اړمنو کورنیو د هند له مرسته شویو غنمو نږدې زر ټنه غنم وېشل کېږي. د کرنې وزارت پر فېسبوک پاڼه د خپرو شویو معلوماتو له مخې، د زابل د کرنې ریاست چارواکي وایي چې د دغه ولایت پر وچکالۍ ځپلو او اړمنو کورنیو د وېش په موخه، نږدې زر ټنه غنم د دغه ولایت مرکز ته لېږدول شوي، چې د اړمنو کورنیو تر سروې او پېژندنې وروسته به یې د وېش لړۍ پیل شي. پر اړمنو کورنیو د غنمو وېش په داسې حال کې پیلېږي چې تر دې مخکې هم د یاد وزارت له خوا د زابل پر وچکالۍ ځپلو او اړمنو کورنیو یو زر او ۲۲۷ مټریک ټنه غنم وېشل شوي دي.

## سناتوران: د ټاکنو پر ځای دې سولې ته لومړیتوب ورکړل شي

په داسې حال کې چې د افغان سولې په تړاو د افغان حکومت په ګډون د سیمه ییزو او نړیوالو هېوادونو هڅو تر دې دمه کومه مثبته پایله نه ده ورکړې، د مشرانو جرګې غړي بیا هم له طالبانو سره پر مذاکراتو ټینګار کوي.
د دې جرګې په پرونۍ عمومي ناسته کې سناتورانو وویل چې افغان حکومت د ولسمشریزو ټاکنو پر ځای باید سولې ته لومړیتوب ورکړي او خپل ټول تمرکز دې د سولې پر مذاکراتو وکړي.
د سناتورانو پر باور په اوسني وضعیت کې د ولسمشریزو ټاکنو ترسره کېدل ناممکن دي، نو بهتره دا ده چې له ټاکنو وړاندې سوله وشي.
د دې جرګې غړي عبدالله قرلق وویل: «موږ هیله من یو چې د سولې پروسه به ښه پایله ورکړي، ځکه زموږ ټول خلک د سولې تږي دي، اما وړاندوېینه هم اړینه ده، مخکې له دې چې ټاکنو ته ورسېږو، باید په سوله تمرکز ډېر کړو.»
له دې سره بیا د مشرانو جرګې ځینې نور غړي پر دې باور دي چې د افغان سولې پروسې کلۍ د امریکا او پاکستان په لاس کې ده، نو که یاد هېوادونه وغواړي، له کوم قید او شرط پرته طالبان د سولې خبرو ته حاضرولی شي.
د افغان سولې په تړاو د مشرانو جرګې څرګندونې داسې مهال دي، چې د رپوټونو له مخې د امریکا او طالب استازو ترمنځ ناسته چې ټاکل شوې وه، نن باید په قطر کې شوې وی، لغوه شوې ده.

## د سولې تصمیم یوازې افغانان نیسي، بل هېواد یې ځای نه شي نیولی



۲ مخ

## لویه څارنوالی: دوسیهٔ تمیم شنسب و ۱۹ همکارش به محکمه فرستاده شده است




لویه څارنوالی می‌گوید که این اداره، دوسیه نسبتی «تمیم شنسب» و ۱۹ نفر از شرکای جرمی اش را به محکمه سپرده است.
جمشید رسولی سخنگوی لویه څارنوالی، دیروز در صحبت با آژانس خبری پژواک گفت که بررسی دوسیه تمیم شنسب و همراهانش، از سوی لویه څارنوالی تکمیل و روز گذشته به محکمه محول گردید.
وی افزود که تمیم و همکارانش؛ متهم به قتل ۲ نفر، مجروحیت ۵ نفر، تمرد از حکم محکمه، اخلال نظم عامه، تجاوز علیه مؤظفین خدمات عامه، غصب ملکیت و وارد کردن خسارات به دولت و مردم می‌باشد.
این در حالیست که محافظان تمیم شنسب، حدود یک ماه پیش زمانی با پولیس در مربوطات شهرنو کابل درگیر شدند، که نیروهای پولیس می خواستند خانه وی را به حکم محکمه تخلیه کنند. در این درگیری، دو پولیس کشته شد و شش تن دیگر زخم برداشتند.
پولیس کابل در آن زمان گفته بود خانه‌ای که قرار بود تخلیه شود، از سوی تمیم شنسب غصب شده بود. سرانجام پولیس کابل، تمیم شنسب را پس از حدود ۲۴ ساعت مقاومت در برابر نیروهای امنیتی، همراه با محافظانش بازداشت کرد.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

## دریځ

### د امریکایي او طالب استازو اصلي اختلاف په څه کې دی؟

ټاکل شوې چې نن په قطر کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ ناسته وشي. ویل شوي چې دا غونډه به دوې ورځې دوام کوي، خو پرون رویټرز د ځینو طالب سرچینو په حواله ویلي وو چې دا غونډه د اجنډا پر سر د اختلاف له امله ځنډول شوې ده.

د طالبانو او امریکا ترمنځ په خبرو کې لوی اختلاف څه دی؟

امریکایي استازي لا هم بیا بیا وایي چې دوی له دې امله له طالبانو سره خبرې کوي، څو هغوی له افغان حکومت سره خبرو ته تیار کړي. په ټولو شوو خبرو کې امریکا له طالب استازو همدا غوښتنه کړې ده. په اماراتو کې یې سعودي، پاکستان او امارات هم د همدې غوښتنې لپاره پر طالبانو د فشار په توګه وکارول. په سعودي کې د غونډې هدف هم همدا و. اوس په قطر کې هم د امریکا غوښتنه دا ده چې طالب استازي د افغان حکومت له استازو سره کېني، خو طالبان لا هم دا غوښتنه نه مني. طالبان بیا له امریکا غواړي چې د ځواکونو پر وتلو بحث وکړي او د خپلو وتلو مهالوېش روښانه کړي، خو امریکا ټینګار کوي چې دا چاره له جوړجاړي وروسته د بحث وړ ده. که بحث هم پرې کېږي، نو باید طالبان د امریکا نظامي حضور ومني.

د اختلاف بل ټکی دا دی چې امریکا د اوربند غوښتنه کوي، خو طالبان وایي چې د امریکایي ځواکونو د وتلو د مهالوېش له اعلان او په دې تړاو له تضمن ورانديې اوربند نه شي کولی. طالبان بیا غواړي چې بندیان تبادله کړي، مشران یې له تور لېست څخه و ایستل شي او د سولې لپاره جوړ شوی دفتر یې رسمي شي. امریکا بیا وایي چې دا درې واړه غوښتنې په افغان حکومت پورې تړلې دي او تر هغو چې طالبان له حکومت سره خبرې ونه کړي، دا غوښتنې نه پوره کېږي. امریکا وایي چې طالب بندیان له افغان حکومت سره دي، له تور لېسته د ایستلو لپاره باید حکومت له ملګرو ملتونو رسمي غوښتنه وکړي، ځکه طالبان د ملګرو ملتونو په تور لېست کې د افغانانو په توګه ثبت دي او هلته افغان دولت رسمي دی. دغه راز د دفتر رسمي کېدو ته هم باید افغان دولت اجازه ورکړي او د دوی له اجازې پرته دفتر ناشونی دی. خلیلزاد تر اوسه له طالبانو سره په خبرو کې ټینګار کړی چې که دوی غواړي دا غوښتنې یې پوره شي، نو لاره یې دا ده چې له حکومت سره خبرې وکړي. طالبان بیا هماغه خبرې تکراروي چې له حکومت سره خبرې نه کوي. په دې ډول د طالبانو او امریکایي استازو خبرې له خنډونو سره مخ دي. که څه هم دواړه لوري د خبرو د دوام خبر ورکوي او د خپلو غوښتنو لپاره به چنې وهي، خو تر هغو چې دواړه لوري په دې برخه کې تنازل ونه کړي، نو داسې نه ښکاري چې دا خبرې به بریالۍ شي.

اوس که په قطر کې کېدونکې خبرې ځنډېدلې وي او یا نه، خو له شک پرته راتلونکې خبرې به بیا هم له ستونزو ډکې وي. د سولې لپاره اړتیا ده چې طالبان او امریکا دواړه په خپلو دریځونو کې نرموالی راولي. له دې پرته ستونزه نه حل کېږي.

# د شوروي تر یرغل مخکې له افغان مجاهدینو سره د (CIA) مرسته

لیکنه: بي بي سي پښتو

افغانستان ته د شوروي د لسګونو زرو پوځیانو تر راتګ وروسته د سي ای اې مرستې ډېرې او پېچلې شوې.

امریکایي رسنۍ د افغانستان د جګړې په اړه د پټو استخباراتي اسنادو د برسېرېدو خبر ورکوي چې له جهادي ډلو سره د واشنګټن د مرستو څرنګوالی پکې ښودل شوی دی. په اسنادو کې راغلي، واشنګټن د شوروي تر یرغل وړاندې پاکستان مېشتو افغان جهادیانو ته د وسلو او پیسو رسول پیل کړي وو.

د سي ای اې، سپینې ماڼۍ او بهرنیو چارو وزارت په دې زر مخیزو اسنادو کې راغلي چې د دغو مرستو ډېره برخه ګلبدین حکمتیار ترلاسه کوله او نورو ډلو ته هم د هغوی د اغېز په اندازه ونډه ورکول کېده.

واشنګټن پوسټ د دوشنبې په ورځ په یوه اوږده مقاله کې د سپینې ماڼۍ د مرکزي استخباراتو د ادارې او د بهرنیو چارو وزارت د هغو یادښتونو پر مټ چې د محرومیت له دایرې ایستل شوي، راغلي؛ د امریکا استخباراتو په کابل کې د واکمن حکومت پر ضد له جنګېدونکو افغان مجاهدینو سره څلوېښت کاله مخکې یعنې د شوروي تر یرغل لس میاشتې وړاندې مرستې پیل کړې وې.

د سي ای اې پټ پروګرام

د دغو اسنادو پر بنسټ، د هغه مهال د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار سبګینیو بریجینسکي یوازې درې میاشتې مخکې تر هغه چې یاغیانو مقاومت پیل کړ، د سي ای اې د پټ پروګرام د پیلولو پرېکړه وکړه.

دی او د سي ای اې نور چارواکي په دې باور وو چې شوروي اتحاد به هېڅکله هم افغانستان ته زیات شمېر ځمکني پوځونه وانه ستوي.

د واشنګټن پوسټ تر مخه، د ۱۹۷۹ زېږدیز کال د فبرورۍ پر ۲۸مه سي ای اې ولسمشر جیمي کارټر ته وړاندیز وکړ چې افغان مجاهدینو ته وسلې وپېري.

شپږ میاشتې وروسته سي ای اې د مجاهدینو په ګټه تبلیغات پیل کړل. ورځپاڼه وایي، ولسمشر کارټر په دې اړه له احتیاطه ډک غبرګون وښود، خو بالاخره د همدغه کال د جولای پر درېیمه یې دغه پټ حکم لاسلیک کړ. اسناد ښيي چې کارټر په لومړي سر کې مجاهدینو ته د ٦٩٥ زرو ډالرو نغدو او یا هم په دغه ارزښت د ناپوځي مرستو حکم کړی و، خو افغانستان ته د شوروي د لسګونو زرو پوځیانو تر تګ وروسته دغه مرستې ډېرې او پېچلې شوې.

له ای اېس ای سره د سي ای اې مرسته

سعودي عربستان هم افغان مجاهدینو ته د میلیونونو ډالرو په ارزښت وسله له مصره راونیوله چې سي ای اې بیا د جګړې میدان ته راولېږدوله.

واشنګټن پوسټ وایي، د ۱۹۸۰ زېږدیز کال په لومړیو کې یې لږ تر لږه شپاړس ټنه توپک، لاسي بمونه او ماینونه پاکستاني استخباراتو ته واستول چې افغان مجاهدینو ته یې ور کړي.

سعودي عربستان هم افغان مجاهدینو ته د میلیونونو ډالرو په ارزښت وسله له مصره وپېرله، چې سي ای اې بیا د جګړې میدان ته ولېږدوله.

چین بیا په لاریو کې توغندي له لوړو غرونو تېرول او مجاهدینو ته یې رسول.

له سي ای اې سره د ایران مرسته

د دغو اسنادو مطابق، حتی ایران هم چې هغه مهال یې د امریکایي وګړو د برمته کولو له امله له امریکا سره اړیکې ترینګلې وې، د ۱۹۸۰ زېږدیز کال د جون پر دویمه د یوه هوکړه لیک پر بنسټ، مجاهدینو ته د وسلو په قاچاق کې له سي ای اې سره مرسته پیل کړه او د لاریو له لارې یې هغه وسلې د افغانستان لوېدیځو ولایتونو ته لېږدولې چې سي ای اې پېرودلې او پاکستانیانو به د هوا له لارې ایران ته رسولې.

واشنګټن پوسټ زیاتوي، د راتلونکې یوې لسیزې په دوران کې سي ای اې د مجاهدینو د یوه ګوند مشر ګلبدین حکمتیار سره ډېره مرسته کوله او تر یوه میلیارد ډېرو ډالرو په ارزښت وسلې یې هغه ته ورکړې چې کمونیستان پرې ووژني.

په افغانستان کې د میلیاردونو ډالرو په لګولو سره له افغانستانه د شوروي اتحاد د پوځونو له وتلو وروسته امریکایانو هم د جګړې له ډګر سره علاقه پرېښوده چې بالاخره په افغانستان کې یوه بل ناورین ته لاره هواره شوه.

نوي لوبغاړي په نوي رول کې

د واشنګټن پوسټ تر مخه، د ۱۹۷۹ زېږدیز کال د فبرورۍ پر ۲۸مه سي ای اې ولسمشر جیمي کارټر ته وړاندیز وکړ چې افغان مجاهدینو ته وسلې وپېري.

څلوېښت کاله وروسته لا هم د جهاد او امریکا ټکي هماغسې دود او په افغانستان کې د جګړو ډګر تود دی.

نوي لوبغاړي یې په نویو رولونو کې دي، امریکا د کابل ملاتړ کوي او د جهاد لپاره ورسره ډګر ته نورې ډلې راوتلې چې ویل کېږي د پخواني شوروي ځایناستی، روسیه یې اوس په مرستندویانو کې راځي.

طالبان د دغه ډګر د یوه اصلي لوبغاړي په توګه له امریکا سره خبرې غواړي، خو د څلورو مخکنیو لسیزو د جهادیانو په څېر له کابل سره خبرې ردوي.

د خبرو دا ډول څو پړاوونه تېر شوي. اوس طالبانو بي بي سي ته منلې چې بیا به هم له امریکایانو سره په قطر کې جرګه کېږي.

تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د ښکېلو اړخونو خبرې د سعودي عربستان په جده کې ټاکل شوې وې چې په دې وروستیو کې یې د جوړېدو په اړه شکونه پیدا شوي دي.

## مشرانو جرګه: کورنیو چارو وزارت دې د فېسبوکي شعارونو پر ځای مجرمین ونیسي



مشرانو جرګې په کابل کې په وسله والو غلاوو، انسان تښتونو او ورانکارو فعالیتونو کې د ښکېلو کسانو د نیولو او مجازاتو غوښتنه وکړه.

د دې جرګې رییس وایي، د کورنیو چارو وزارت باید د فېسبوکي شعارونو پر ځای، د انسان تښتوونکو د نیولو لپاره عملي اقدامات وکړي.

فضل هادي مسلمیار د جرګې د سې شنبې د ورځې په ناسته کې د سناتورانو تر بحث وروسته وویل، د کورنیو چارو وزارت ته د دغو کسانو بشپړ شهرت معلوم دی او باید ژر تر ژره یې د نیولو عملي اقدامات وکړي.

نوموړي زیاته کړه: «کورنیو چارو وزارت د دې پر ځای چې د دغو انسان تښتوونکو او غلو نومونه په فېسبوکونو خپاره کړي، دوی ته یې نوم، ځای او هر څه معلوم دي او باید ویې نیسي او قانوني اقدام وکړي. راځئ له شعاره تېر شو، عمل ته باید راشو. دغه کسان ولس نه شي نیولای، له افشا کولو یې هرکلی کوو، خو کورنیو چارو وزارت باید د نیولو اقدام هم وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې یاد وزارت په دې وروستیو کې د شاوخوا ۲۰۰ هغو کسانو نومونه خپاره کړل چې په کابل کې په وسله والو غلاوو، انسان تښتونو او ورانکارو فعالیتونو کې ښکېل دي.


یاد وزارت ویلي، دا کار یې د دې لپاره کړی چې خلک له دوی سره د غلو په نیولو کې مرسته وکړي.

خو د محمدحسن هوتک په نوم سناتور د زورواکو او غلو پر وړاندې دغه ډول اقدامات نمایشي ګڼي او وایي چې په تېر کې ډېر ځلې له لنډې مودې وروسته بېرته مجرمین خوشې شوي دي.

نوموړي وویل: «د کورنیو چارو وزارت دا کار مور ستایو. دا د کورنیو چارو د وزیر زړورتیا ده، خو په دې شرط چې دا د شعار په بڼه نه وي، عملي یې کړي. مور ولیدل چې په تېرو وختونو کې همداسې نیمه دولتي چارواکي چې په جرایمو کې یې لاس درلود، ونیول شول، خو له لنډې مودې وروسته د دولتي چارواکو په مرسته بېرته خوشې شول.»

د یاد وزارت ویاند نجیب دانش بیا وایي، مور له دې ډلې اووه کسان نیولي، د پاتې کسانو د نیولو په لټه کې یو او له دوی سره به قانوني چلند وکړو.

## اجرایه ریاست: د سولې تصمیم یوازې افغانان نیسي، بل هېواد یې ځای نه شي نیولی



اجرایه ریاست وایي، د افغان سولې بهیر له لوړو- ژورو سره مل اوږده پروسه ده، خو ټینګار کوي چې روانو هڅو د بل هر وخت په پرتله سولې ته د رسېدو خوشبیني ډېره کړې ده.

د اجرایه رییس د ویاند مرستیال فریدون خوځون ازادي راډیو ته وویل، په دې پروسه کې د هر ډول تصمیم حق یوازې افغانان لري او بل هېواد د افغانستان ځای نه شي نیولی.

نوموړي زیاته کړه: «افغان حکومت په دې اړه خوشبینه دی چې هغه هڅې چې د خلیلزاد او د سیمې د هېوادونو له خوا پیل شوې، نتیجې ته ورسېږي. هغه هڅې چې کېږي، مور سولې ته نږدې کوي او دا طبیعي ده چې د سولې بهیر وخت نیسي او لوړې- ژورې لري، خو په ټوله کې مور هیله من یو چې سولې ته ورسېږو.»

دی وایي، که طالبان رښتیا غواړي د سولې روانې هڅې بریالۍ او له جنګه لاس واخلي، باید له شرط پرته له افغان حکومت سره خبرو ته حاضر شي.

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د سفرونو او له طالب استازو سره له لیدو- کتو سره همهاله روسیه، پاکستان، ایران، سعودي عربستان او ترکیه هغه هېوادونه دي چې په دې برخه کې د هڅو خبره کوي.

له دې ټولو سره سره، طلوع نیوز ټلوېزیون دې داسې سند د ترلاسه کېدو ادعا کړې چې د سولې په اړه د حکومت، طالبانو او امریکا احتمالي هوکړه لیک ښکاره کوي.

دغې رسنۍ ویلي، د ۵۰ پاڼو په دغه سند کې راغلي چې په هېواد کې د یوه پراخ اوربند له اعلانېدو سره باید انتقالي حکومت جوړ شي، څو بیا په اساسي قانون کې د بدلون او د حکومت د څرنګوالي په اړه بحث وشي.

ویل شوي چې په دغه سند کې د سولې له بهیر سره د طالبانو د څرنګه یوځای کېدو، په افغانستان کې د راتلونکي نظام څرنګوالی او د بهرنیو ځواکونو تدریجي وتل هم یاد شوي دي.

خو فریدون خوځون د حکومت، طالبانو او امریکا ترمنځ دا احتمالي توافق یوه اوازه ګڼي او وایي چې هېڅوک، هېڅ بنسټ او هېڅ هېواد نه شي کولای له طالبانو سره د سولې په پروسه کې د افغان حکومت ځایناستی شي.

# ښه حکومتولي

لیکنه: نجیب الله فرزان

په نړۍ کې په عام ډول دولتونه او په خاص ډول حکومتونه د دې لپاره رامنځته شوي چې خلکو ته په ښه ډول خدمات سرته ورسوي، قانون پلې کړي او د ټولنې له مادي او معنوي پانګو او منابعو څخه په ښه ډول ګټنه وکړي.
حکومت، حکومتولي، ښه حکومتولي او عامه مدیریت سره تړلي، نږدې او پېچلي مفاهیم دي چې مونږ دلته یوازې پر ښې حکومتوالۍ او د هغې پر شاخصونو تمرکز کوو.
ښه حکومتولي د ټولنیزو چارو د داسې سرته رسولو په معنی ده چې عامه مصالح تامین او خلکو ته ځواب ویونکې وي، یا د حکومت د فعالیتونو داسې سرته رسولو په معنی ده چې په هغه کې شفافیت، حساب ورکونه ، د خلکو مشارکت، د قانون حاکمیت او عدالت په نظر کې نیول شوی وي. ځینې یې بیا د یو هېواد د بشري او غیر بشري منابعو داسې استعمال او مدیریت بولي، چې پایداره او عادلانه اقتصادي او ټولنیزه وده تضمین کړي. په ټوله کې ویلای شو چې ښه حکومتولي د قانون حاکمیت، د بشري حقونو او ډیموکراسۍ اصولو ته احترام او د یو سالم حکومت رامنځته کول دي.
د ښې حکومتوالۍ کلمه د دویمې نړیوالې جګړې او په خاص ډول د ۱۹۸۰ لسیزې څخه راپه دېخوا د حکومتونو د متغیر نقش او رول په هکله استعمال شو، چې دولتونه د عمومي منافعو د تحقق لپاره یو سلسله چارې سرته رسوي چې ښې بېلګې یې د ټولنیز ثبات رامنځته کول، د عامه اجناسو او خدماتو ارایه، د اقتصادي زیربناوو توسعه او پراختیا، د بازارونو د رکود مخنیوی، د ټولنیز عدالت او برابرۍ تامین او د فساد مخنیوی دی.
په نننی متغیر او بدلېدونکې نړۍ کې چېرته چې بازارونه نړیوال شوي، اقلیمي تغیرات ډېر زیات تر سترګو کېږي، په ښارونو کې جمعیت تراکم کړی، چې دولتونه په تنهایۍ سره دې ورتیا نه لري چې د ټولنو داسې نویو او معاصرو غوښتنو ته ځواب ورکړي. ښه حکومتولي د ټولنې له ټولو ظرفیتونو څخه په عامه او خصوصي سکټورونو کې او همدارنګه په مدني برخه کې د استفادې لپاره یوه ښه مقدمه ده.
ښه حکومتولي یوه داسې اصطلاح ده چې نه تنها د سیاسي علومو په حوزه کې، بلکې د اقتصادي ودې، د بشري حقوق، ډیموکراسۍ او دولتي یا عامه مدیریت(Public management) په برخه کې زیاته استعمالیږي.

**د ښې حکومتولۍ شاخصونه**

د ملګرو ملتونو په اسنادو کې د ښې حکومتوالۍ شاخصونه په لاندې ډول دي.
مشارکت او ګډون: د حکومت په پرېکړو او تصامیمو کې ونډه د اتباعو مسلم حق دی، ټول افراد نارینه او ښځینه، ډلې او احزاب چې په یوه ټاکلي جغرافیایي موقعیت کې ژوند کوي باید د خپل متبوع دولت په ټولو پرېکړو کې دخیل وي او د تصامیمو په نیولو او اجرا کې فعاله ونډه ولري. په دولتي سیستم کې باالخصوص معلوماتو ته لاسرسی ولري او خلک پکې د ازادۍ احساس وکړي. دغه مشارکت د موسساتو، احزابو او د فشار د ډلو د فعالیت په ازادۍ او د بیان په ازادۍ ښه تمثیلېدلای شي.
د قانون حاکمیت: ښه حکومتولي د عادلانه حقوقي ساختارونو مستلزم ده. په ښه حکومتوالۍ کې دېته اړتیا ده، څو قوانین او حقوقي بنسټونه په ناپېیلي، بې پلوه او عادلانه شکل رامنځته شي، څو قانون په ټولو یو شان تطبیق کړي، د خلکو حقوق پکې خوندي وي او د ټولو اتباعو مدني ازادي پکې ساتل شوې وي. دا بیا هغه وخت امکان لري چې مونږ له فساد څخه پاک او خپلواک قضایي سیستم او پولیس ولرو. قوانین باید ټول شموله وي او شخصي توپیرونه پکې دخیل نه وي.
شفافیت: د ښې حکومتوالۍ یو بل شاخص په کارونو کې شفافیت دی، شفافیت په دې معنا چې خلک د حکومت په تصمیم نیونه، د هغوی په اجرا او همدارنګه د هغې په مربوطه پروسیجرونو پوه وي او دا پرېکړې په داسې ډول ونیول شي چې د مقرراتو او قانون تابع وي.
حساب ورکونه: په ښه حکومتوالۍ کې حساب ورکونه(Accountability) تر ټولو اړین شاخص دی، سیاسیون او دولتي چارواکي باید د خپلو ټولو هغو کړنو، د منابعو استعمال او د بودیجې د مصرف په هکله نه تنها خلکو، بلکې مدني ټولنو، احزابو او حتی نړیوالو زیدخله ارګانونو ته حساب ورکړي.
مسوولیت پذیري او ځواب ورکونه: له ځواب ویلو(Responsiveness) څخه هدف دا دی چې نه تنها حکومت، بلکې په ټولنه کې شته ټول مدني حرکتونه، احزاب او د فشار ډلې، کاروباریان او کاروباري ادارې، خلکو ته په مناسب وخت کې ځواب ویلو ته جوګه وي. ټولې حکومتي ادارې د خلکو په خدمت کې وي او د هغوی پر وړاندې د مسوولیت احساس وکړي.

**اجماع**

جوته ده چې په ټولنه کې خلک د مختلفو عقایدو، افکارو، توقعاتو او غوښتنو لرونکي دي، د حکومت په اډانه کې باید پرېکړې په داسې ډول ونیول شي چې د ټولنې د ټولو اقشارو او ډلو اجماع پکې وي.

**موثریت او ګټورتوب**

د موثریت او ګټورتوب هدف د یوه هېواد د مادي او معنوي منابعو په سم ډول استعمال دی. حکومتونه باید د یوې ټولنې له موجوده منابعو څخه په داسې شکل استفاده وکړي چې پایداره انکشاف تضمین کړي او دغه استعمالونه په متداوم شکل وي، څو نورو نسلونو ته هم انتقال شي.

**عدالت**

حکومتونه باید د منابعو په تخصیص او د عامه اجناسو او خدماتو په توضع کې د عدالت اصل په نظر کې ولري او دا چاره باید په داسې ډول صورت ونیسي چې متوازن انکشاف رامنځته کړي.

# په قطر کې طالب او امریکايي استازي د کېدونکو خبرو پر اجنډا اختلاف لري



طالب سرچینې وایي، د قطر غونډه یې له امریکا سره د اجنډا د موضوعاتو پر سر د اختلافاتو له امله ځنډېدلې ده.
که څه هم رویټرز اژانس د دې غونډې د لغوه کېدو رپوټ ورکړی دی، خو مسیر ته طالب سرچینو ویلي چې د اجنډا په برخه کې ستونزې شته، غونډه به کېږي او یو مخ نه ده لغوه شوې.
رویټرز خبري اژانس ته په قطر کې د دې غونډې د لغوه کېدو په اړه بیا طالب سرچینو ویلي، له امریکایي چارواکو سره یې د سولې په اړه خبرې ځکه لغوه کړې چې د اجنډا د موضوعاتو په اړه یې په تېره بیا په دې خبرو کې د افغان چارواکو د ګډون، د احتمالي اوربند د اعلانولو او د بندیانو د تبادلې په اړه دواړو لورو اختلافات درلودل.
ټاکل شوې وه چې د نن او سبا په غونډو کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد د طالبانو له استازو سره پر هغو مسایلو بیا خبرو ته دوام ورکړي، چې دواړو لورو په مخکینۍ غونډه کې پرې خبرې کړې وې.
د طالبانو یوې سرچینې رویټرز ته ویلي، امریکایي چارواکو ټینګار کاوه چې طالبان دې په قطر کې د افغانستان د حکومت له استازو سره وګوري، دغه راز دواړو لورو هم په روان ۲۰۱۹ ز کال کې د احتمالي اوربند د اعلانولو پر موضوع اختلاف درلود.
دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد مخکې ویلي وو چې دواړه لوري تر اوسه د دغو خبرو پر تخنیکي جزیاتو کار کوي او د خبرو لپاره واضح اجنډا هم نه ده ترتیب شوې.
د طالبانو سرچینو رویټرز ته دغه راز ویلي، دوی له امریکایي چارواکو غوښتي وو چې د طالبانو ۲۵ زره بندیان خوشې کړي او دوی به یې هم په بدل کې درې زره بندیان خوشې کړي، خو د دې سرچینې په وینا، امریکایي چارواکي اوسمهال لېواله نه وو چې د بندیانو پر تبادلې بحث او خبرې وکړي.
د طالبانو یوې بلې سرچینې دغه اژانس ته ویلي چې دوی به هېڅکله هم اوربند اعلان نه کړي، تر څو یې د جګړې په اړه خپلې اساسي غوښتنې پوره شوې نه وي.
د دې سرچینې په وینا، طالبان داسې احساس کوي چې زلمی خلیلزاد د دې صلاحیت نه لري چې د موضوعاتو په اړه مهمې پرېکړې وکړي.
د رویټرز د راپور له مخې، د سولې له دغو ټکنیو هڅو سره په امریکا کې مېشت راند څېړنیز مرکز د افغان سولې د موافقې د یوې طرحې ځینې جزیات په کابل کې له افغان چارواکو او ډیپلوماتانو سره شریک کړي دي.
په دغه سند کې چې رویټرز یې یوه کاپي ترلاسه کړې، وړاندیز شوی چې امریکا او ناټو دې ځواکونه په تدریجي ډول په اتلسو میاشتو کې له افغانستانه وباسي.

# چین: سین کیانګ ته د ملګرو ملتونو د چارواکو د ورتګ لپاره په مشروط ډول اجازه ورکوو

د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند لوکانګ ویلي، د ملګرو ملتونو چارواکو ته به اجازه ورکړي چې نا ارامه لوېدیځ ایالت سین کیانګ ته ورشي، خو په دې شرط چې د دغه هېواد په کورنیو چارو کې به مداخله نه کوي.
تر دغو څرګندونو مخکې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو مشرې میچل باچله په ډسمبر کې ویلي وو چې دوی دې سیمې ته د ورتګ اجاره غواړي، څو هغه راپورونه وڅېړي چې وایي، اقلیت مسلمانان د بیا روزنې په کمپونو کې ساتل کېږي.
د چین له دغه ایالت څخه چې له افغانستان او پاکستان سره ګډه پوله لري، تېر کال د ناوړه بشري وضعیت په اړه راپورونه خپاره شول.
لوکانګ وایي، سین کیانګ د ټولو پر مخ پرانیستې سیمه ده او د ملګرو ملتونو د چارواکو په ګډون ټولو لورو ته چې غواړي له دې سیمې کتنه وکړي، ښه راغلاست وایي، خو په یوه شرط چې د چین د قوانینو او مقرراتو درناوی وکړي او د سفر ټول طرزالعملونه عملي کړي.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت تل ادعا کړې چې سین کیانګ ته د بهرنیو خبریالانو او چارواکو د ورتګ هرکلی یې کړی، خو ډېر ځلې لیدل شوي چې هغه بهرني خبریالان چې دې سیمې ته تللي، نیول شوي یا د پولیسو له خوا تعقیب شوي او د کمپونو د وضعیت او اویغوریانو سره د چلند په اړه یې د راپورونو مخه نیول شوې ده.
چین په سیمه کې له اوږدې مودې راهیسې له ترهګرۍ او بېلتون غوښتنې سره د مبارزې په نوم پر اقلیت مسلمانانو سخت مقررات وضع کړي دي.
د ملګرو ملتونو د بشري حقونو خپلواکه اداره په دې باور ده چې په سین کیانګ ایالت کې شاوخوا یو میلیون اویغوریان او نور اقلیت ترک تبري مسلمانان د بیاروزنې په مرکزونو کې ساتل کېږي.



## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد

### لومړی څپرکی
### د بخت پر بهانې د بريالي کېدو دوه لارې




۱) د علت او معلول قانون زده کړئ. تاسې يو ځل بيا د بختورو او نيکمرغو خلکو چاپيريال وگورئ، د بخت په نوم به هېڅ هم پيدا نه کړئ. بلکې له ښه بخته وړاندې به چمتووالی، پلان، تفکر او موقعيت وگورئ. که تاسې دا موضوع وڅېړئ، مشخص علت به يې پيدا کړئ. بريالي انسانان چې له خنډ سره مخ شي، ښو پايلو ته رسېږي او د همدې په مرسته بيا خنډونه هواروي. خو عادي او ناکام خلک بيا دا وړتيا نه لري چې له خپلو ماتو درس واخلي.
۲) خيال بافي مه کوئ. خپل سر په دې خيال مه ستړی کوئ چې پرته له سختيو او کړاو گاللو به گني بريا ته ورسېږئ. هېڅوک دومره په اسانه او يوازې په بخت و تصادف بري ته نه رسېږي.
بريا خپل اصول او قواعد لري او د هماغو په رعايتولو ترلاسه کېږي. که غواړئ چې کار کې بريالي شئ، ترفيع وکړئ يا د ژوند په هره برخه کې بريالي شئ، يوازې د بخت په تمه مه کېنئ. په دې وظايفو کې د موقف ترلاسه کول د بخت کار نه دی. بلکې دا د هغو وړتياوو کار دی چې ستاسې د بريا لامل کېږي او په هماغو تمرکز وکړئ.

### درېيم څپرکی
### پر ځان باور وکړئ
### او وېره ووژنئ

له ځينو ملگرو به مو اورېدلي وي چې: (دا يوازې ستا د تخيلاتو زېږنده ده، اندېښنه مه کوه! وېره نشته، له هېڅ شي مه وېرېږه!) که داسې درته ويل شوي وي، نو د دې ملگرو په ښه نيت شک مه کوئ.
د دې تر څنگ، تاسې خپله هم ښه پوهېږئ چې د وېرې درمل چنداني کار نه کوي. د ملگرو دغسې خبرې تاسې تر څو دقيقو يا څو ساعتونو ارامولای شي، خو که چېرې څوک غواړي تاسې په دې خبره ارام کړي چې: (دا ستاسې د تخيلاتو زېږنده ده!) نو دا خبره به نه تاسې ډاډه کړي او نه به مو وېره ووژني.
هو، وېره واقعاً شته! او موږ که يې وژنو، نو لومړی بايد دا ومنو چې وېره شته او وروسته يې بيا ووژنو.
زموږ د وخت د ډېرو وېرو ريښه رواني ده. خپگان، سټريس، لارورکي، فشار ... دا هر څه له منفي خيالونو او بې لارېتوبه رامنځته کېږي، خو يوازې د وېرې د زمينو په پېژندلو يې هم درملنه نشو کولای. که چېرې يو ډاکتر پوه شي چې ستاسې د بدن يوه برخه مکروبي شوې ده، نو کار همدلته نه ختمېږي، بلکې درملنه به ترهغې روانه وي چې دا مکروب له منځه لاړ شي. د (دا زموږ د تخيل زېږنده ده) خبره په دې مانا ده چې وېره بهرنی وجود نه لري، حال دا چې وېره واقعيت لري. وېره د پرمختگ لومړی دښمن دی. وېره خلک نه پرېږدي چې له شته فرصتونو گټه واخلي. وېره انرژي او گټورتيا ختموي. انسانان عملاً ناروغوي او عمر يې لنډوي. وېره ستاسو خوله د خبرو پر وخت تړي.
وېره (ناډاډمنتيا او پر ځان بې باوري) د ډېرو انسانانو د اقتصادي ستونزو او بې ثباتۍ لامل کېدای شي. وېره د دې توجيه هم کېدای شي چې ميليونونه خلکو لږ پرمختگ کړی دی او د خپل ژوند له فرصتونو او امکاناتو گټه نه اخلي. وېره ورانوونکی قوت دی. په هره سترگه چې ورته وگورې، وېره کولای شي چې په انسان کې خوښي او نيمکرغي له منځه يوسي.
وېره که په هره بڼه او هره اندازه وي، رواني مکروب دی. لکه څنگه چې بدني مکروبونه د بېلابېلو لارو چارو او درملنو په مرسته رغېږي، همداسې دا اروايي مکروبي ټپ هم رغولای شو. نو لومړی بايد پر دې حقيقت پوه شو چې: (پر ځان باور اکتسابي دی) يعنې هېڅوک له موره پر ځاني باوري نه دي زېږېدلي. تاسې چې کوم خلک گورئ چې په ټولنه کې زړور، سرلوړي او باثباته خلک دي، دوی اصلاً په خپگان او اندېښنو برلاسي شوي دي. دوی هر ځای او هر وخت بې له کومې اندېښنې رابنکاره کېږي، ځکه دوی يوازې په خپل زيار يوه يوه ذره ډاډ او اطمينان راټول کړی دی.
تاسې هم داسې کولای شئ او دا برخه تاسې ته هم دا لاره ښيي.
په دويمه نړيواله جگړه کې، بحري ځواک غوښتل په دې ډاډه شي چې پوځ ته راغلي ځوانان ټول په لامبو پوهېږي يا په دې برخه کې روزل شوي دي. موخه يې دا وه چې د اړتيا پر وخت ځان په سيند کې له ډوبېدو وژغوري.
کومو پوځيانو ته چې لامبو نه ورتله، هغوی يې روزنيز کورس ته ولېږل. زه د دوی د تمرين څو جلسو ته تللی وم. دا ډېره جالبه وه چې روغ جوړ او سالم ځوانان به له اوبو وېرېدل. زما ياد دي، يوه ورځ بايد دې خلکو له يوې تختې دوه متره يا تر دې ډېرو ژورو اوبو ته ټوپ کړي وی. لاندې په اوبو کې ځينې لامبووهونکي دوی ته په تمه وو چې ورټوپ کړي.
داسې صحنې ظاهراً خونډورې خو اصلاً ډېرې ځورووونکې وې. دا ځوانان وېرېدل او وېره يې حقيقي وه. خو د دوی او وېرې تر منځ يوازې اوبو ته د ټوپ وهلو خبره وه او يوازې له همدې لارې دوی په وېرې برلاسي کېدای شول.
ډېر وخت به يې يو ځوان په زوره له تختې لاندې اوبو ته وغورځاوه، ځکه دوی يوازې دا غوښتل چې وېره پکې ووژني.
له دې تجربې سره به ډېر پخواني لامبووهونکي بلد وي، خو يو ټکی پکې ډېر مهم دی او هغه دا چې اقدام وېره ختموي، څومره چې انسان ځان ساتي او احتياط کوي، هومره وېرې ته ميدان خوشې کېږي.
**دوام لري...**

# د افغانستان د وسله وال پوځ تاريخ

اکسوس کتابپلورنځی

د افغانســتان د وســله وال پــوځ تاريــخ نــوی پــه پښــتو ژبــه ليــکل شــوی دی. د کتــاب ليکــوال تــورن جــنرال دولــت وزيــري دی چــې کتــاب ټولټــال ۹٦۸ مخونــه لــري.
د کتـاب لومړی څپرکی د تاريخ او وسـله والـو ځواکونـو پېژندنـې تـه ځانگـړی شـوی دی چـې پـه هغـه کـې لومـړی د تاريخ پر عامه او لنډه پېژندنـه سربېره، د تاريـخ د ليکلـو پـه اړتيـا، گټـو، د تاريـخ پـه سرچينـو، پيـل، ډولونـو، د تاريـخ پـه دورو او بيـا ورپسـې د وسـله والـو ځواکونـو د عامـه پېژندنـې پـه تـرځ کـې د اردو او وسـله وال پـوځ لغـوي او اصطلاحـې پېژندنـه شـوې ده.
پـه دويـم څپرکـي کـې د اسـلام د سـپېڅلي ديـن لـه خپـراوي وړانـدې زمانـو کـې د لرغونـې افغانسـتان د اردو يـا سـاتنه دويـه ځـواک پـه اړه معلومـات وړانـدې شـوي دي.
درېيـم څپرکـي کـې يـې افغانسـتان تـه د سـپېڅلي ديـن لـه راتـگ څخـه د مغولـو تـر يرغـل پـورې د بېلابېلـو واکمنـو لـړۍ پېژندنـې شـوې او د هغـو پـر پوځـي او نظامـي حالاتـو بانـدې يـې بحثونـه کـړي دي.
پـه څلـورم څپرکـي کـې يـې د مغولـو د سـتر واکـۍ پـر مهـال د افغانسـتان د نظامـي- پوځـي حالاتـو پـه اړه بحثونـه شـوي چـې پـه ترتيـب سره لومړی افغانسـتان تـه د چنگيـز او بيـا د هغـه د اولادې د راتـگ او يرغلونـو پـه اړه تفصيـلي معلومـات راوړل شـوي دي.
پنځـم څپرکـی يـې د هـرات د ابدالايانـو او هوتکـو د واکمنيـو پـر مهـال د افغانسـتان د پوځـي- امنيتـي حالاتـو څېړنـې او سـپړنې تـه ځانگـړی شـوی دی.
پـه شـپږم څپرکـي کـې د معـاصر افغانسـتان نظامـي پوځـي حـالات پـه تفصيـل سره څېـړل شـوي دي چـې لومـړی پکـې د احمدشـا بابـا او بيـا د هغـه د اولادې د مـلي اردو او ولـسي لښـکرو تشـکېلاتو او د هغـو جگړيـزو وسـلو او د وسـلو څرنگـوالي تـه کتنـه شـوې ده.
اووم څپرکـي کـې د محمـد زيـو د کورنـۍ لـه لومـړي واکمنـه نيولـې بيـا ان د محمـد داوود خـان تـر واکمنـۍ پـورې د افغانسـتان نظامـي او پوځـي حالـت پـه تفصيـلي ډول بيـان شـوی او پـه پـای کـې د منابعـو او سرچينـو پـه ښـودلو سره، پـه همـدې اووم څپرکـي کـې د افغانسـتان د اردو او وسـله والـو ځواکونـو د تاريخ لومړی ټـوک پـای تـه رسـېدلی دی.




پـه ټولـه کـې کتـاب د اردو پېژندنـې او بيـا پـه خاصـه توگـه د افغـان اردو پېژندنـې پـه اړه پـوره او تفصيـلي معلومـات وړانـدې کـوي.
مينـه وال کـولای شي دا کتـاب لـه اکسـوس او د ښـار لـه نـورو لويـو او مشـهورو کتابپلورنځيـو څخـه پـه مناسب قېمـت ترلاسـه کـړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | جهشی به سوی تفکر | جان مکسول | ۱۳۰ؚ |
| ۲ | جهشی به سوی پيشرفت | جان مکسول | ۱۳۰ؚ |
| ۳ | قانون جذب | مايکل لويسر | ۱۲۰ؚ |
| ٤ | فن بيان سخنران | امير شفيعی | ۱٤۰ؚ |
| ٥ | ملکه سرخ پوش | فيليپا گرگوری | ۳۸۰ؚ |
| ٦ | چگونه به مرد زندگی ام بگويم دوستت دارم | دکتر نورمن رايت | ۸۰ؚ |
| ۷ | چگونه به زن زندگی ام بگويم دوستت دارم | دکتر نورمن رايت | ۸۰ؚ |
| ۸ | قدرت بخشيدن | عظيم جمال و هاروی مک کينون | ۱۲۰ؚ |
| ۹ | پيشتکار قدرت مداومت | گرگ اس . ريد | ۱۳۰ؚ |
| ۱۰ | نامزدی هدفمند | استيون کارتر جوليا سوکول | ۱۳۰ؚ |
| ۱۱ | نيمه تاريک جويندگان نور | دبی فورد | ۱۷۰ؚ |
| ۱۲ | رازهای يک روانشناس | فرشاد نجفی پور | ۱۷۰ؚ |
| ۱۳ | چون دوست دشمن است | سيمين جعفر جلالی يزدی | ۲۰۰ؚ |
| ۱٤ | هنر گفتگو | روزالی ماگيو | ۲۷۰ؚ |
| ۱٥ | هم خانه باخدا درحيات جاودان | نيل دونالد والش | ۳۰۰ؚ |
| ۱٦ | مذاکره کتابخانه موفقيت برايان تريسی | برايان تريسی | ۱۰۰ؚ |
| ۱۷ | مهارت های زندگی | دکتر آرنولد لازاروس | ۱٥۰ؚ |
| ۱۸ | قانون شادی | دکتر هنری کلاود | ۱۳۰ؚ |
| ۱۹ | سرسختی در رمين پول آفرينی | آنتونی رابينز | ۳۰۰ؚ |
| ۲۰ | همه چيز عالی است | لوئيزال هی دکتر مونااليزا شولز | ۱٥۰ؚ |
| ۲۱ | راه حل برد برد برای اختلافات زناشويی | گری چاپمن | ۸۰ؚ |
| ۲۲ | من سه نفر هستم | د کتر حسن شاهدی | ۱٥۰ؚ |
| ۲۳ | زندگی سفری زيبا و تامل برانگيز | لوئيزال هی دکتر مونااليزا شولز | ۱۳۰ؚ |
| ۲٤ | کليد طلايی ثروت | ناپلئون هيل | ۱۸۰ؚ |
| ۲٥ | عزت نفس پښتوانه موفقيت | دکتر سمانه سنجری | ۱۷۰ؚ |
| ۲٦ | ذهنيت تان را تغيير دهيد تارنگی تان تغيير کند | کارن کيسی | ۱۲۰ؚ |
| ۲۷ | عرت نفس در زنان | نا تانيل براندن | ۱۰۰ؚ |
| ۲۸ | مثل يک موفق عمل کن مثل يک موفق فکر کن | استيو هاروی | ۱٥۰ؚ |
| ۲۹ | خوشبخت بودن ياد گرفتنی است نه به دست آوردنی | فرحناز مير قمی زاده | ۱٥۰ؚ |
| ۳۰ | د افغانستان د وسله وال پوځ تاريخ | تورنجنرال دولت وزيری | ٤۰۰ؚ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړيکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٤٥ |
| € | ۸٦,۲۰ |
| Rp. | ٥۳۸ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۰,۸٥ |
| £ | ۹٥,٦۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - استانبول | 17:00 |
| کابل - انقره | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

## کم معاشي او سپما؛ دلته يې لارې چارې درښیو

ژباړه: بشر درویش

په ورځنيو لګښتونو او امتیازاتو کې مالي سپما د نننیو انسانانو لپاره د شخصي ژوند په مدیریت کولو کې یوه مهمه موضوع ده.

دا موضوع په عین حال کې ستونزمنه هم ده؛ په خاص ډول هغو کسانو ته چې لږ معاش لري او دغه معاش يې اېله په سختۍ سره د ژوند ورځني مصارف تامینوي.

دلته به پر هغو لارو چارو وغږېږو چې له لږ معاش سره د مالي سپما په برخه کې درسره مرسته کوي.

**کورنۍ مشارکت او ګډه اراده**


د سپما بحث یوازې د کور مشر یا عاید لرونکي کس پورې نه محدودېږي؛ د کورنۍ ټول غړي باید په دې توافق او ګډ کار وکړي چې دوی مالي سپما ولري.

که داسې مشترکه اراده او ګډې هڅې موجودې نه وي، ممکنه نه ده چې یوه کورنۍ هغه هم په لږو عوایدو کې چنداني سپما وکړای شي. ګډه اراده هغه وخت عملي کېږي چې د کورنۍ ټول غړي خپل لګښتونه او غوښتنې کنټرول کړي.

تاسې که لږ معاش لرئ، لومړی له کورنۍ سره وغږېږئ چې مالي سپما ته اړتیا ده او دا کار باید د ګډې همکارۍ له لارې ترسره شي.

**د لګښتونو لېست برابر کړئ**

د لګښتونو لېست کول د سپما لپاره یو اساسي بحث دی. تاسې باید د لېست له مخې پوه شئ چې د میاشتې څومره لګښت لرئ.



لېست لرل ستاسې لګښتونه منظموي، کنټرولوي او د بې ځایه او زیاتو لګښتونو مخه مو نیسي.

**د احساساتو او لوږې پر وخت څه مه پېرئ**

هغه وخت چې ډېر خوشاله یاست یانې احساساتي يئ، سودا اخیستو ته مه ځئ. په دغه وخت کې کېدای شي اولادونو او د کور نورو غړو ته بې ضرورته ډالۍ واخلئ چې اقتصاد ته مو تاوان رسوي.

د لوږې پر وخت هم احتیاط وکړئ، کېدای شي په دغه وخت کې زیات څه وپېرئ او دا مو اقتصاد ته په تاوان تمام شي.

**هرڅه ته بودیجه ځانګړې کړئ**

د هرې اړتیا د پوره کولو لپاره باید لازمه او حد اقل اختصاصي بودیجه ولرئ. د بېلګې په ډول: روغ- رنځور، مړی- ژوندی، تفریح او داسې نور شیان. ډېرې دې نه وي، حد اقل باید یو څه ځانګړې پیسې درسره وي چې د عاجل ضرورت په وخت کار ترې واخلئ.

که داسې منظمه بودیجه بندي ونه لرئ او یو ځل مو زړه تنګ شي، کېدای شي په تفریح او سیاحت زښته ډېر مصرف درڅخه وشي. خو که ځانګړې بودیجه ورته ولرئ، کېدای شي چې لګښتونه مو کنټرول او ستاسې له سويې سره برابر وي.

**له نورو مرسته وغواړئ**

د اقتصادي چارو له کارپوهانو، دوستانو او یا هم نورو مجربو خلکو څخه وپوښتئ چې څنګه د خپلې مالي سپما وضعیت ښه کولای شئ.

دا بده خبره نه ده، یو ښه کار دی. په دې برخه کې هغه غلط ټولنیز باورونه له ذهنه وباسئ، چې ګواکې سپما تاسې کنجوس ښيي.

**پر ارزان بیه شیانو تکیه مه کوئ**

ځینې شیان لکه: د کور لوښي، د پوښاک او نورو وسایل که ارزانه دي، خو دایمي نه دي.

دا شیان که په ارزانه اخلئ، دا ومنئ چې زر به له منځه ځي او تاسې به يې نوي کولو ته اړ وځئ. د دې لپاره چې زیات تاواني نه شئ، د مناسب قیمت لرونکي خو ښه شیان درته واخلئ.

**خیال پلوونه پرېږدئ**

ځینې له نورو زر متاثره کېږي. د چا له موټره متاثرېږي، د چا له کوره، د چا له جامو او د چا له نورو شیانو.

دا يې خیالات خرابوي او مجبوروي يې چې بې ځایه لګښتونو ته مخ واړوي. تاسې هڅه وکړئ څو له دغو خلکو څخه ونه شمېرل شئ.

سربېره پردې دا لاندې ټکي هم په پام کې وساتئ:

- بې ځایه او بې ضرورته هر شی مه بیه کوئ. کېدای شي پلورونکی مو په بیه کې ونیسي، ستاسې په خوښه بیه باندې یو شی درباندې خرخ کړي چې دا به بې ضرورته او اضافي مصرف وي.
- خپل ورځني لګښتونه یاداشت کړئ، څو وپوهېږئ چې څومره پیسې مو په څه باندې ولګېدې. دا ستاسې د حساب ورکونې، با مسوولیت والی او شفافیت کار پیاوړی کوي.
- د سودا اخیستو پر وخت قیمتونه مقایسه کړئ. له مقایسې پرته ممکنه ده چې په لوړه بیه څه واخلئ او تاواني شئ.
- په چنې وهلو بد نه ښکارئ، کومه بیه چې پلورونکي درته وایي، په هماغو څه مه اخلئ.
- د مالي سپما لپاره مو موخې وټاکئ. موخې ټاکل د سپما د پیاوړتیا انګېزه درکوي او هڅوي مو چې حتماً پیسې زېرمه کړئ.
- د سپما لپاره لومړیتوبونه هم وټاکئ، څو پوه شئ چې کومې پیسې څېرته ډېرې درته په کارېږي او باید ورته ځانګړې يې کړئ.

## پوهنې وزارت: راتلونکی کال به ښوونځیو ته ۴۹،۲ میلیونه ټوکه نوي کتابونه چاپ کړو

پوهنې وزارت وایي، راتلونکی کال به ۴۹،۲ میلیونه ټوکه د ښوونځیو د لوست کتابونه د خصوصي چاپخونو په وسیله چاپ کړي.

دا لومړی ځل دی چې د پوهنې وزارت د ښوونځیو لپاره د لوست کتابونه په کور دننه او هغه هم د خصوصي چاپخونو په وسیله چاپوي.

د دغه وزارت سرپرست میرویس بلخي له بهیر خصوصي شرکت سره د ۱۲،۲ میلیونو ټوکو کتابونو د چاپ د تړون د لاسلیک پرمهال وویل چې د کتابونو د چاپ دا لړۍ د پنځه کلن پلان برخه ده.

نوموړي زیاته کړه: «د کتابونو د چاپ، وېش او تکثیر لپاره پنځه کلن پلان مو په نظرکې نیولی چې له مخې به



يې په راتلونکو پنځو کلونو کې ۱۳۵ میلیونه ټوکه کتابونه چې له لومړي تر دوولسم ټولګیو او د ښوونکو د لارښود ۳۵ مضمونونه پکې شامل دي، د ۷۵ میلیونه امریکايي ډالرو په لګښت به چاپ شي».

نوموړي دغه راز وویل، په دې موده کې به د دیني علومو ۲۵،۵ میلیون ټوکه کتابونه د هېواد د علماوو تر نظر لاندې چاپ شي. دا کتابونه به د قوي پلان له مخې په خپل وخت د هېواد په ګوټ ګوټ کې ښوونځیو ته ورسول شي او په را روان کال کې به په دې برخه کې کومه ستونزه نه وي.

د بهیر خصوصي شرکت مشر شېرباز کمین زاده په یاده غونډه کې پر وخت او په ښه کیفیت د کتابونو د چاپ ژمنه وکړه.


د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په افغانستان کې له ۲۰۰۴ ز کال را په دېخوا، تر دې دمه د بېلابېلو مضمونونو ټول ۲۲۹ میلیون ټوکه ښوونیز کتابونه چاپ شوي چې ۱۹،۲ میلیونه امریکايي ډالره لګښت پرې راغلی دی.

سره له دې چې د حکومت له لوري د ښوونځیو د کتابونو د چاپ لپاره د نبراسکا په نوم یوه دولتي چاپ خونه ځانګړې شوې، خو یاد وزارت د ښه کیفیت او پر وخت د چاپ لپاره دغه مسوولیت خصوصي سکټور ته وسپاره.

## امریکايي څېړونکي: امریکا باید له امنیتي تضمین وروسته له افغانستانه ووځي

امریکايي څېړونکي وایي، کله چې امریکا له ترکیې د کردانو د امنیت ساتنې او دغه راز د داعش ډلې د جړو ایستلو ضمانت غواړي، نو باید له افغانستانه هم د خپلو سرتېرو تر ایستلو مخکې د یاد هېواد له ګاونډیو هېوادونو څخه ورته ضمانت تر لاسه کړي.

د امریکايي رسنیو د راپورنو له مخې، که څه هم افغانان هیله من دي چې امریکا به د تېر په څېر افغانستان مخالفو قوتونو ته پرې نه ږدي، خو بیا



هم دغه هېواد باید د خپلو ځواکونو تر وتلو مخکې افغانانو ته د ضمانت په توګه یو څه پرېږدي، څو دا هېواد یو ځل بیا د وسله والو ډلو په امن ځاله بدل نه شي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن په خپل تازه بیان کې ویلي، امریکا به په بېړه خپل ځواکونه له سوریې ونه باسي. هغه ویلي، تر څو پورې چې په سوریه کې د داعش ډلې د له منځه وړلو او دغه راز د کردانو د امنیت تضمین نه وي شوی، دوی به په یاد هېواد کې پاتې وي. د کارپوهانو په باور، له طالبانو سره خبرې په یاد هېواد کې امنیت نه شي ډاډمنولی، ټرمپ باید د سوریې په څېر د افغانستان په اړه ورته تګلاره خپله کړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








چهارشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د جنوري اتمه | دویم کال | ۳۱۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ۱۹ | ۱۸ | ۱۳ | ۱۸ | ۱٦ |
| -۸ | ٦ | ٤ | ٤ | ۳ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیگر ۰۳:۲۲ | ماښام ۰۵:۰۰ | ماخوستن ۰٦:۳۰

## نړۍ



# چین: سین کیانگ ته د ملگرو ملتونو د چارواکو د ورتگ لپاره په مشروط ډول اجازه ورکوو

۳

## بولټن له ترکي چارواکو سره د خبرو لپاره ترکیې ته تللی دی



د امریکا د ملي امنیت سلاکار جان بولټن د ترکیې له لوړپوړو چارواکو سره د سوریې په اړه خبرې کړې دي.

د امریکا د ملي امنیت شورا یوه ویاند گاریت مارکیس په یوه اعلامیه کې ویلي چې دواړو لورو نور مسایل هم په گوته کړي چې باید خبرې پرې وشي.

په اعلامیه کې راغلي، امریکا تمه لري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ پر نظامي کچه هم سلا مشوري وشي.

دا چې بولټن د ترکیې له دفاع وزیر او د استخباراتو له رییس سره کتلي که نه، په دې اړه معلومات نه دي ورکړل شوي. خو له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره ټاکل شوې غونډه نه ده شوې، بولټن ته ویل شوي چې اردوغان پر ټاکنیز کمپاین بوخت دی.

بولټن ترکیې ته په داسې حال کې تللی چې په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم سیمې ته سفر کړی.

سیمې ته د امریکایي چارواکو سفرونه په داسې حال کې دي چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ناڅاپه له سوریې د امریکا د دوو زرو سرتېرو د ایستلو پرېکړه اعلان کړه.

د ټرمپ دغه اعلان امریکایي متحدان حیران کړي او له همدې امله د امریکا دفاع وزیر جېمز متېس استعفا وکړه.

چارواکي وېره لري چې د امریکایي سرتېرو له وتلو سره به سوریه بې ثباته شي او کرد ملېشې به قتل عام شي.

## سپینه ماڼۍ: ټرمپ له مودي سره پر سوداگرۍ او نورو مهمو موضوعاتو خبرې کړې دي



سپینه ماڼۍ وايي، ولسمشر ټرمپ د هند له لومړي وزیر نرېندرا مودي سره د هند او امریکا په سوداگرۍ کې د کسر پر کمېدو او په افغانستان کې د دواړو هېوادونو د همکاریو پر زیاتېدو ټیلیفوني خبرې کړې دي.

دواړو مشرانو هوکړه کړې چې هند او امریکا به په روان ۲۰۱۹ ز کال کې خپل ستراتېژیک مشارکت زیات کړي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، تېر کال وروسته له هغې چې ټرمپ د امریکا د سوداگرۍ د کسر د کمولو او د امریکا په تولیدي فابریکو کې د کارونو د زیاتولو په نیت پر فولادو او المونیمو گمرکي تعرفې لوړې کړې، هند هم په مقابل کې له امریکا پر ځینو واردېدونکو توکو د گمرکي تعرفو د زیاتولو گواښ وکړ، خو په دې اړه یې وروستۍ پرېکړه د روانې میاشتې تر پایه ځنډولې ده.

سپینه ماڼۍ وايي، دواړو مشرانو په دفاعي او د ترهگرۍ پر وړاندې د مبارزې او انرژۍ په برخو کې د دوو اړخیزو همکاریو پر پراختیا هم خبرې وکړې.

ټرمپ او مودي د هند پاسفیک سیمې د امن او هوساینې پر پیاوړي کېدو موافقه کړې او د دې تولو ترخنگ، افغانستان هم د دواړو مشرانو د خبرو اصلي موضوع وه، خو په دې اړه زیات جزیات نه دي ورکړل شوي.

ټرمپ له مودي سره دا خبرې وروسته له هغې کوي چې هغه تېره اونۍ د کابینې غونډې ته د افغانستان د جگړې په اړه په خبرو کې د هند نوم د هغو هېوادونو په کتار کې راوست، چې د ده په خبره باید په افغانستان کې د ترهگرۍ پر وړاندې جگړه کې زیاته ونډه واخلي.

## نامزدان معترض دروازه های کمیسیون های انتخاباتی را در کندز مسدود نمودند



نامزدان معترض در کندز، دروازه های کمیسیون های انتخاباتی را بستند و به مسؤلین ذیربط دو روز مهلت دادند تا مشکلات آنها را حل کنند.

عبدالغفورهوتک نماینده نامزدان معترض، به آژانس خبری پژواک گفت که آنان، دروازه کمیسیون انتخابات را مسدود نموده و در برابر آن، خیمه را بر افراشتند.

نامبرده افزود: «تعهد سپرده بودند که همه آرا دوباره حساب می شود و آرای سیاه از سفید مجزا خواهد شد؛ اما این کار صورت نگرفت؛ فلهذا درب کمیسیون انتخابات را مسدود کردیم».

همچنان مرضیه رستمی، به نمایندگی از نامزدان معترض اناث، به پژواک گفت که آنها دروازه کمیسیون شکایات انتخاباتی را بسته کرده اند.

موصوف گفت: «در نتایج ابتدایی، برخی نامزدان کامیاب اعلان شده اند، که هیچ گاه کندز را ندیده بودند و در سراسر کندز، حتی ده تن با آنها معرفت ندارند».

رستمی افزود، نامزدان متذکره، صرف با انجام تقلب و کاربرد پول، کامیاب اعلان شده اند، که آنها مخالفت شدید با همچو افراد دارند.

کاندیدان معترض متذکره اذعان کردند درصورتیکه مسؤلین مربوط، این مشکل را در دو روز حل نسازند، مظاهرات گسترده را راه اندازی نموده و شاهراه ها را مسدود خواهند کرد.

مسؤلین کمیسیون انتخابات در کندز، از ابراز نظر دراین عرصه اجتناب ورزیدند.

اما عصمت الله مرادی والی کندز، گفت که آنها با کاندیدان معترض گفتگو نموده، پیشنهادات آنها را با مسؤلین ذیربط در میان گذاشته است.

مرادی افزود: «مشکلات را ارجاع نموده ایم، کمیسیون ها در پیشبرد امور شان مخیر اند؛ اقدام بعدی مربوط آنها است».

نامزدان معترض کندز، پیش از این هم سه بار دروازه کمیسیون انتخابات و دو بار دروازه کمیسیون شکایت های انتخاباتی را مسدود نموده بودند.

## ژوند

## دغه خواړه مو د بدن دفاعي سیستم پیاوړی کوي



کله چې د انسان دفاعي سیستم قوي او پیاوړی وي، نو ناروغۍ پرې په اسانۍ سره غلبه نه شي کولی. د دې لپاره چې د بدن دفاعي سیستم مو پیاوړی شي، د ځینو خوراکونو رول هم په دې برخه کې خورا مهم دی. له دې خوړو یو هم لوبیا ده. لوبیا د روغ بدن لپاره اړین خواړه دي. لوبیا په زیاته اندازه پروټین، ویټامین بي، اوسپنه او پوتاشیم لري.

دغه خواړه د زړه د ناروغیو مخنیوی کوي. څېړنو ښودلې ده، هغوی چې تر نورو ډېره لوبیا خوري، د زړه پر ناروغیو د اخته کېدو احتمال یې هم کم وي.

همدارنگه لوبیا د کنسر یا سرطان ناروغۍ خطر کموي. په ورته وخت کې لوبیا د وینې غوړ یا کلسترول کموي او د شکرې ناروغۍ په مخنیوي کې هم د پام وړ رول لوبوي. دغه راز لوبیا د وینې فشار زیاتوي او هغه څوک چې د وینې د فشار ناروغي لري، ښه دا ده چې په زیاته اندازه یې ونه خوري. اوس چې د ژمي موسم دی، د دې لپاره چې له ریزش او زوکام مو هم ځان ژغورلی وي، په ورځني ډول باید په زیاته پیمانه ویټامین سي واخلئ. شنه مرچ، نارنج، لیمو او مالټې یې تر ټولو ښې سرچینې دي.

## ماشوم یې له تاسو زده کوي

رښتینولي تر ټولو ښه سیاست دی. ستاسو په اند، یو دروغجن انسان د درناوي وړ دی او یا دا چې تاسو کله هغه چا ته دروغ ویلي چې ستاسو د درناوي وړ وي؟ که کله در څخه کومه تېروتنه کېږي، ښښنه وغواړئ. په تېره بیا دغه څه د خپلو ماشومانو په مخ کې وکړئ، څو هغوی هم ښښنه غوښتل زده کړي؛ ځکه ماشوم په دې سره پر خپل نفس اعتماد پیدا کوي او له ځانه سره فکر کوي چې دا دی زما پلار او یا مور چې تر ما لوی دي، هم تېروتنه کوي او د تېروتنې جبران په ښښنې سره کېږي. هڅه وکړئ چې د خپلو ماشومانو پر مثبتو ټکو تمرکز وکړئ. که خدای مه کړه ماشوم مو کله هم تېروتنه کوي، مه یې رټئ او بد رد مه ورته وایاست؛ ځکه دغه یې حللاره نه ده. د خپلو ماشومانو ستاینه وکړئ، خو پام مو وي



چې په دې برخه کې زیاتی درڅخه ونه شي او هسې نه چې دروغ ووایی. که غواړئ چې په ماشومانو کې مو مثبت بدلون راولی، پر مثبتو ټکو یې تمرکز وکړئ؛ ځکه څومره مو چې د ماشوم ښې کړنې ستایئ، په هماغه ډول نور هم هڅېږي.